مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

پوهاند محمد بشیر دودیال ۲۰۱۹/۰۱/۱۵

# سیمه ییز اقتصاد، اړتیا او له دې پلوه په سیمه کې د افغانستان دریځ

دویمه برخه

> *"...اوس افغانستان د منځنی آسیا او جنوبی آسیا یوه مهمه برخه ګرځیدلی او هیڅوک یې له اهمیت څخه سترګی نشی پټولای..." دوکتورمحمد اشرف غنی*

**د اقتصادی فعالیتونو منطقه یی تحلیل:**



دلته په منطقه یی اقتصـــاد کې اکثراً له منطقو څخه موخه د هیواد دننه هغه جغرافیاوی ســـاحات دي چې د یوه ټاکلی جنس یا خدمت د تولید اوچت ظرفیت لری لکه د صـــنعتی خامو توکو منطقه، د میوه جاتو د تولید منطقه، د تفریحی او توریزم د صـــنعت منطقه او داســـي نور، خو ځینی وخت بیا د یو هیواد له ملی پولو بهر په بین المللی ډول د څو هیوادونو یو ګروپ، ډلي یا بلاک (block ) لپاره اســـتعمالیږی. د منطقو ســـره جلا کولو ته درې کلاســـیک ډولونه موجود وو، چې اوس دغو ویشـــنو کی بدلون راغلی. دغه کلاسیک خصوصیات په لاندې ډول دي:

**الف) متجانسي منطقې**: دغه ســیمې یو شــانته ځانګړتیاوې لري، کوم داخلي توپیرونه که موجود وي، هغه ډیر په پام کې نه نیول کیږی. دی ته homogeneous region ویل کیږی.

**ب) قطبی شـــوی منطقې Nodal (polarized) region**: دلته مشـــابهتونو او ورته والي ته اهمیت نه ورکول کیږی. معمولاً د پام وړ د یوی ټاکلی غوټی (node) خواته قطبی شـــوی وي او ســـیمه د همدغي غوټی په محور ویشـل شـوی او نوم ورباندې اینـودل شـوی وي. دغه محوری یا دپام وړ غوټه د اقتصـاد لپاره مهم ( دمقصد ټکی یاadhoc) وي چې پلانونه او پروګرامونه ورته په پام کې نیول کیږي.

**ج) د پلان جوړوني یا برنامه ریزی (planning / programming region) له مخې منطقې**: په دغه ډول ویشنه کې اداري یا سیاسي برنامې او تصامیم رول لري.

اقتصاد پوهان، اقتصادی پالیسی جوړوونکی او د تولید او مارکیټ متخصصین د پام وړ ناحیې په لاندی توګه ټاکي:

**د لویو او عصري مارکیټونو سیمې:**

دا هغه سیمې دي چې ګرانبیه او لږ موندل کیدونکی او تجملی اجناس پکې زیات دی، نو ځکه دغه ډول سیمي ډیرې د پاملرنې وړ وي. البته د Reilly له نظر سره سم دغو سیمو کې ممکن عادي او ادنی اجناس هم وی، خو د ادنی او اعلی اجناســو ترمنځ، په منځنی توګه توپیر زیات وي. ادنی اجناس ټول هغه اجناس دي چې بله هره ســیمه کی خامخا موندل کیږی، مګر اعلی او د لوړې بیې اجناس ممکن نورو ســیمو کی ونه موندل شــي لکه لبنیات، ســابه، ډوډی، صابون، شکره او نور چې په هره سیمه کی شته، خو لوکس عطر، فیشنی نکټایي، یخچال سره زر، لاجبراو داسی نور ممکن هره بله سیمه کی نه وي. د لویو او عصری سیمو مارکیټونو کی بیه او لګښت دواړه لوړ وی دلته مهمه داده چې باید د تصدیو محل تبدیل شي. د لوکسو اجناسو تولیدوونکی تصدی باید لوړو بیو سیمو ته نژدې وي، خو د ارزانه اجناسو تصدی که اطرافونو ته نږدې وي بده نه ده. خو مشکل دادی چې د سیمو ویشل او ناحیه بندی یواځی د اقتصادی تصامیمو تابع نه ده، بلکی دلته حکومتی پولې(رسمی سرحدات)د اقتصاد یوه لپاره ستونزه پیداکوي. په تیره بیا که چیری اقتصـاد پوهان له ملی پولو څخه پورته په اقتصـادی منطقو فکر کوي، نو باید د یوه معین فضـــایي بُعد Spatial dispersion په حدونو کې اقتصـــادی فعالیتونه و څیړلای شـــي. د یوه هیواد دننه اقتصـادی منطقی ټاکل کوچنی فضـایي بُعد احتوا کوي، خو له ملی پولو بهر د دوو یا څو هیوادونو ترمنځ اقتصـادی منطقه جوړول بیا یو پراخه فضـایي بُعد جوړوي. مهمه داده چې په دغو فضـایي بُعدونو کی اقتصـادي مسـایل بنـه



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ

رهبری او مدیریت شي. د دی څانګې د ښه مدیریت لپاره په هغو مسایلو پوهیدل ضرور دي، چې راتلونکو څپرکیو کې ورباندی بحث کوو.
څرنګه چې سیمه ییز اقتصاد د فضایی بُعد او اقتصادی فعالیتونو اړیکی تحلیل او مطالعه کوي او هره سیمه او منطقه بیله بیله ځانګړنه لري، نو دهرې سیمې اقتصادي اوسیمه ییز پرابلمونه هم سره توپیر لري ځکه نومنطقه یی اقتصاد ته اړتیا لیدل کیږی ترڅو چې د نوموړي علم څخه په ګټه اخیستنې سره دهرې منطقې لپاره پلان جوړاو داسې نورې اړینې کړنې ترسره شي. منطقوي اقتصاد دانان عمدتاً په لاندنیو برخو کې څیړنه او په هغو باندې بحثونه کوي: دصنعتي موقعیت مشخصات (په ملي او له ملی پولو بهر په منطقوي کچه)،د تصدیو د تمرکز او د هغو منطقه یی اقتصادي تاثیرات، د کورنیو مهاجرتونومشخصات او د ځمکې په ګټه اخیستنه کې مثبت تغییرات، منطقوی تخصص، په ځانګړو سیمو کې د اقتصادی فعالیتونو په تمرکز سره د اقتصادي او ټولنیزو تغییراتو محیطي تاثیرات، د اقتصادي او اجتماعي شرایطو برابری، په سیمه کې د سوداګریزو اړیکو پیاوړتیا، د عامه او خصوصي سکتورونو د پراختیا لپاره د مناسب چاپیریال رامنځته کول، د اقتصادي او سیمه ئیز انضمام پر مټ د زیربنایي پروګرامونو پرمختیا، د دولتي سکتور د ادارو پرمختیا او ښه حکومتولي، هغه سیمې چې لا تر اوسه وروسته پاتې او انزوا کې دی د هغو تر ټولنیزې انزوا راکمول، په منطقوی کچه د چاپیریال ساتنې پروګرامونو جوړول او دنړی له نوروسیمو سره د اړیکوپیاوړې کول. دغه علم د تاریخ په اوږدو کې تکامل وکړ او په هغه کې بیلابیلو علماوو زیار ګاللی دی. په اقتصاد کې د بیلابیلو سیمو او هیوادو شریک کیدو او اقتصادی ګډو علایقو سیاسی ناملایمات او خوابدی او سیالی په ملګرتوب بدل کړی دی. نن ورځ د دغه علم له انکشاف څخه یوه نوی اصطلاح رامنځته شوی چې (freenemy) ورته وایی. لومړی برخه (freind) یعنی دوست یا ملګری څخه اخیستل شوی او دوهمه برخه (enemy) یا دښمن، یعنی دوست دښمنان! هغه د سیاسی ډګر دښمنان چې په اقتصاد کې ډیر ښه دوستان او ملګری دی. موږ ته دا ډیره مهمه ده چې سیاسی سیالی په اقتصادی مرستو او پیوستون بدله شي او د دښمنی فضا په دوستانه فضا واوړی.

**د اقتصادی فعالیتونو منطقه یی تحلیل:**
یو اقتصاد پوه د منطقو او سیمو د اقتصادی پوتانسیل، مناسب موقعیت، د مناقلاتو دلګښت، د بازار څخه د فاصلې او نورو فکتورونو په تحلیل سره، د یوې منطقې لپاره فعالیت او د تصدیو تمرکز ټاکی. د ځانګړې محل ټاکنې پریکړو څخه موخه داده، چې څنګه د ځانګړې محل ټاکنې واحدات (Location units) لکه کورنی (مستهلکین)،کاروباریان او دولتي دوایر د خپلو اوسیدو او کړنو سرته رسولو لپاره محلات وټاکي او یا د ضرورت پرمهال محلات بدل کړي. ممکن په لومړي سر کې زمونږ تحلیل د جزوي اقتصاد(تصدی) په کچه وي، بیا به وروسته د ملي اقتصاد په کچه تحلیل ترسره کړو یاني لومړی به په Micro level چې دلویو واحدونو جوړوونکي دی، تحلیل وکړو لکه یوه یا دوه کورنی، کاروبار او دولتي (عامه) فابریکه او کوم بل واحد، بیابه وروسته په Macro level یادلویو واحدونو لکه ښارونو ،صنعتونو ،سیموو او داسې نورو کچو تحلیل وکړو.

**منطقه یي والی(Regionalism)**
منطقه ټاکنه د پولو په جلا کولو سره پیل کیږي چې هم په لویه کچه وي او هم په کوچنۍ کچه. مناطقو اوسیمو ته ځانګړی نومونه هم غوره کیداي شي او د نقشې پرمخ په ځانګړو جغرافیاوی نښو او رنګونو هم ښودل کیږي. دنړی پرمخ هر هیواد دیوه سیاسی واحد په توګه خپله ځانګړی خپلواکه فضالری ، چې د یوه دولت د قلمروپه توګه پیژندل کیږي.
عملاً دیو شمیر مقاصدو دترلاسه کولو، د یو شمیر ګډوګټو څخه دګار اخیستلو ، یوبل سره دلاس ورکولو او دپیاوړتیا د اوچتولو او نور و موضوعاتو لپاره څو منطقې یوبل ته لاس ورکوي او یوه واحده منطقه (region) جوړوي. یوشمیر سیمې مطلقاً دسیاسی تصمیم له مخې جوړیږی. یو شمیرنورې داقلیمی خصوصیاتو له مخې جلاکیږي. یو شمیر نورې سیمې داقتصادي ګډو ځانګړنو له مخې اوکیداي شي ځینې سیمې دکلتوری مشترکاتو له مخې په نښه شی. په عمومي توګه دنړی پرمخ منطقې په څلورو ډولونو ویشل شوي دي:

i. دټولې نړۍ په کچه د ځمکی پرمخ د سیمو ویش
ii. د څو هیوادونو په کچه ویشنه
iii. د سیمې د څو هیوادونو په کچه ګډه منطقه
iv. په ملي کچه په هیواد کې د منطقو ټاکنه
v. د یو هیواد دننه د کوچنیو منطقو ټاکنه

اما zone له منطقې سره توپیر لری. زون یوه تخنیکی اصطلاح ده چې هغې پلنې پټاري اوښودل ښوی جغرافیه یي مقطع ته ویل کیږي چې دخپلو شاوخوا سیمو سره په توپیر کې یوه یا څو ځانګړی ځانګړتیاوې ولري. لکه په


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

افغانستان کی د پستي د ځنګلونو زون چي له بدخشان څخه د هرات د سبزک تر کوتل پوری په نښه شوی دی او دافغانستان د اقتصاد او د پستي په تولید کي مهم رول لری.
:
*دمنطقو دکچو(لیول) ډولونه*




منطقه (region): دملی اقتصاد به حدودوکي هغه په کره او دقیقه توګه ټاکل شوی ساحه ده چي دخپل جوړښت او پوتانشیل له مخي ددې وړتیا لري چي په خپلواکه توګه یویا څو فعالیتونه وکړی.

مثالونه:

i. دټولي نړۍ په کچه دویشـني مثالونه دآسیا دجنوب دمنطقي پیژندنه ده چي دنفوسـو یو ډیر لوی اکثر مرشـن دی. یا دنړي لوی صنعتي هیوادونه چي دسوداګری او ملی عاید له پلوه په یوه جلاګروپ کي راځي.
ii. دڅو هیوادونو په کچه دیوې منطقي بـــودل لکه لری ختیځ، منځني ختیځ او یاهم شـــمالي امریکا، جنوبی امریکا او داسي نور.
iii. دسـیمي دڅو هیوادونو په کده منطقه لکه د مرکزي آسـیا هیوادونه، دجنوبی آسـیا هیوادونه، جنوبی افریقااو نور.
iv. په ملي کچه په هیواد کي منطقه ټاکنه لکه دافغانستان ختیځ زون( ننګرهار، لغمان، کونړ، نورستان)
v. دکوچنیو منطقو ټاکنه:لکه د پامیر واخان چي ځانګړی طبیعت لري ، یا زمونږ هیوادکي د مدیترانی اقلیم لرونکی منطقه چي په ننګرهار کي یوڅو ولسـوالي او دجلال آباد ښـار شـاوخوا سـیمه ده، دهیواد دجنوب شګي لرونکی دښتي او داسي نورمثالونه.

لومړنی دري کټګوری مطلقاً سیاسی اړخ لري، خو دهیواد په کچه یاله هغه ټیټه کچه دیوه هیواد خپل واک او اختیار دی چي ددوی ملی تصـامیمو پوري اړه لری. هره کټګوری دحقوقی او ارګانیکی پلوه داړیکو او چلند له مخي توپیر کوي. خوپه یوه کي ســیمه ییزتوب ته علاقه موجوده وي. اقتصـــادي اړتیاوی دســیمه ییزتوب او منطقه پالنی (regionalism) مهم انګیزه ده. دغه انګیزه او اړتیا دومره مهمه ده چي ځیني وخت دوه دښـمن هیوادونه داقتصادی ګټو لپاره ملګری کیږي چي دبازار په اقتصاد کي ورته Freenemies یاد ملګري او دښمن اړیکي ویل کیږي. داسي بیلګي شته چي دیوی سیمي دوه یاله دوه څخه زیات هیوادونه ممکن له سیاسی پلوه یوبل سره ۱دوستان نه وی، خو داقتصـــادی اړتیا وو له مخي په یوه منطقه کي یو د بل همکار دی او دمجبوریت له مخي یي اقتصـــادی ملګرتوب رامنځته کړی دی.
خو دخوشـحالي خبره داده چي ډیرو هیوادونو په خپله ملي کچه باندي اقتصـادی مناطق ایجاد او ډیر ښـه یي په نښـه کړی دي. په ملی کچه داقتصادی منطقو ښه والی دادې چي دغه سیمي دهیواد دواحد سیاسی حاکمیت لاندې وی او

۱ -ESCAP: Economic And Social Commuission For Asia And the Pacifict (UN)


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزی بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

دقدرت له اصـــالت څخه برخمن وي. ملي حاکميت خپلو مناطقوته په بشـــه ډول رســـيږي داځکه چي په ســـيده توګه ورسره په تعامل کې وي. نوري دوه کچې په سيده توګه په ملي کچه د منطقو ويش تراغيزې لاندې نه راولي، بلکې د يو شمير تعاملاتو او عقدونو تابع وی. په دې ډول سره دمناطقو دغه ويش يوډول جوړښت دی. خو په حتمي توګه د مراتبو دسلسلې بڼه نه لري. ددې معنی داده چي ددغه جوړښت ځيني سطوح مستقل اوخپلواک دي، نو ځکه دتابع يافرعی نوم ورکول ناســـم کاردی. ځيني وخت يوشـــميرتيتې کچې دټولي نړۍ دکچې څخه تابعيت کوي، خو نه دتل لپاره اونه هم هر وخت ! دبيلګي په توګه: افغانستان دملګروملتونو دمنطقه يي ويش په ESCAP (۲) منطقه کېواقع دی او ددغې حوزې په پروګرام کې به کار کوي او ESCAP بيا د ملګرو ملتونو دټولي برنامې مطابق کار کوي. بل مثال يې دسارک لخوا دباميان د فرهنګی مرکز ټاکنه ده چي افغانستان به دسارک دمنطقوي سازمان پريکړې په دې برخه کې عملي کوي. ددې بالمقابل که دافغانستان دولت بغلان ديوی صنعتی منطقي په توګه ټاکي، ددې منطقي برنامې او ټول اجرات بيا هيڅيا پورې اړه نه لري، بلکی دافغانستان دولت، دسوداګری او صنايعو وزارت واک لری چې رهبری يې کړي.

د اقتصاد د منطقه يی کيدو فلسفه په دې ټکي ولاړه ده چې د اقتصادي انضمام او نړيوالتوب سره سره، بياهم دټولي نړۍ اقتصـادی وحدت ناممکن دی. نو دسيمو داقتصـادی ځواکونو اوسرچينو سره متحدکول دغه آرمان ترېوه بريد پورې پوره کولای شـــي . دګلوبلســـتانو (دنړيوالتوب نظريه ورکوونکو)په فکر دمنطقه يي اقتصــادونو دســازمانونو رامنځته کيدل داقتصـادی، طبيعی اوجغرافياوی اړتياوو محصـول اوپايله ده اوکيداي شي چه نړيوالتوب ســره مرسته وکړي.

Ernest Hass چي دنړيوالو اړيکونامتو څيړونکی دی، په نړيوالو اړيکوکي يې دمناطقو دســـره يوځای کيدل، په اقتصادی پرمختګ او دوستانه اړيکو ټينګيدو کې اغيرمن بللی دی. لکه هغسې چې يوهيواد دخپلو سياسی پولو دننه دجغرافيايي اوطبيعی ځانګړنو له مخي دولاياتو په کچه اقتصــادی منطقه په نښــه کوي، همداســي هم څوهيوادونه په لويه کچه دغه ډول منطقه جوړوي چي دپريکړو واک دسيمي په کچه يوسازمان ياکوم بل مرکزی ارګان ته سپاری. لکه د ســارک ســازمان، ايکو اونور ســازمانونه. دوي دلاســليک شــوي تړون او د تړون ســره مل دقوانينو او طرزالعملونو لــه مخي ددغي منطقي اقتصـــــادی چــارې پــه ګـډه ســـمبــالوی. يوشـــمير ګډاقتصـــــادی اهداف اوتاريخي،جغرافيايی. کلتوری، سياسی اوټولنيز وجوهات دوی سره متحد کوي.

ځيني وخت دغه ډول منطقه يي ســـازمان له دوو، دريو ياڅو هيوادونو څخه هم پراخ او ديوه براعظم په کچه جوړيږي. د ANZCERTA, CAREC بنلوکسBENELUX دکــارابين دحوزې دهيوادوCARICOM منطقوی ســـازمانونه يې غوره بيلګي دي. په منطقويتوب(Regionalism) کې دپام وړټکی دادی چې دســـيمې په کچه ګډې اړتياوې ترلاسه کيږي. د دغو اقتصادی ګټو په خاطر حتا خپل يوشمير صلاحيتونه دمنطقوی سازمان په واک کې ږدي. د Goldstein په وينا: په دې حالت کې اقتصـــادي اهداف دملی دولت له کچې پورته کيږي او په نړيوال ډګر کې ديوه ســـازمان کچې ته ر ســـيږی او دمنطقي په کچه يوه ســـياســـی همغږی هم رامنځته کوي، يعنی منطقوی اقتصاد دسياسی تفاهم سره ډيره مرسته کوي او دسولې له ستراړمان سره هم مرسته کوي.

منطقويتوب په تيره بيا هغو هيوادونو ته ډير ضروری ده چې لاتراوسه له اقتصادی پلوه خوار او له سياسی پلوه په انزواکې دي. دوی به په انفرادي توګه ډيرخوار پاتي شـــي. خوپه يوه منطقوی ســـازمان کې يې غړيتوب، دپرمختګ چانس زياتوي.دملی پولودننه دمنطقو په رامنځته کولو او له ملی پولوبهر دهيوادونو په کچه دمنطقوي ســــازمان جوړول دپوره دقت، دملی منافعو تضـمين کولو، دوه اړخيزه يا څو اړخيزه عادلانه تړون، د اقتصــاديت دسـنجش او داسې نورو باريکو مسايلو د کره کتنې غوښتنه کوي.




*د لاجوردو لار، د افغانستان لپاره په سيمه ييز تجارتی مسير کې د ورګډيدو ډير ښه چانس*


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په ځير و لولـئ

**دمنطقوي اقتصاد حقوقی(قانوني) اړخ:**
ملی حاکمیتونه دخپل هیواد دننه دخپلو ملکي تقسیماتو له مخي اقتصادی منطقي د یوشمیر اړتیاوو، مشابهتونو، د لګښتونو دکمښت، اقلیمی توپیرونو یاورته والی، دخامو توکو دپیداښت اونورو دلایلو له مخي ټاکي. مخکي تر ۱۳۷۱ ل. کال څخه افغانستان صنعتی فعالیتونه په اوو منطقو کي په نښه کړي وو چي هرې منطقي یومرکز درلود. د دغو منطقو د استملاک په برخه کي ستونزه نه وه، د ځمکي هر استعمال (لکه زراعتی استعمال، صنعتی استعمال، رهایشی، تفریحی او خدماتی او نور ) پکي رعایت شوی و. موږ دا حق نلرو چي زراعتی استعمال او شنه ساحه په تجارتی یا ترانسپورتی یا مسکونی ساحو بدلي کړو، بلکی د ځمکي د هر استعمال لپاره باید وړ او مناسب محلات و ټاکو. موږ پخوا ملی پارکونه هم په نښه کړي وو او توریستی سیمی هم ټاکل شوي وې.
له ملی پولو څخه بهر د دوو یا څوهیوادونو ترمنځ داقتصادی منطقي جوړول چي ددوی دحکومت څخه جلا دیوه سازمان په بنه فعالیت کوي، یوه قانوني کړنه ده چي دنړیوالو حقوقو سره سم جوړیدای شي. مونږ دلته دنظامی منطقوی سازمان او سیاسی منطقوی سازمان سره کار نه لرو. بلکی دبحث موضوع موصرف دمنطقوی اقتصاد دپرمختیا اومدیریت لپاره اقتصادی منطقوی سازمانونه دي چي ټاکلی هیوادونه پکي غړیتوب ترلاسه کوي او مشخصي جغرافیایی سیمي پوري اړه لري چي دوی خپل منځ کي یوډول منطقوی اقتصاد یا منطقوی اقتصادي اړیکي رامنځته کوي. دغه ډول منطقوی جوړښت دیوې اساسنامي اوتوافق شوی قرارداد له مخي جوړیږی او په هغه کي شامليدل اختياري بڼه لري اویومنطقوی اقتصادی ساختار د حقوقی اهلیت لرونکی وي. خومعمولاً دیوه دولت په شان عمل نه کوي. بلکي دخپلي اساسنامي مطابق مشخصو برخو کي یوبل سره همکاری او تعاملات پرمخ بیایی. هرغړی خپلو حقوقی،سیاسی او مالي چاروکي استقلالیت لري . د دوي حقوقی سرچيني ددوی ترمنځ لاسلیک شوی توافقنامه، اساسنامه، د اسنادو دوه اړخیز یاڅو اړخیز تړونونه او نړیواله قضایي رویه ده. دوی په شریکه دیپلوماتیک اساسات اواداب رعایتوي. یومنطقوی اقتصادی سازمان او تړون دمحصول اومالیاتو، ګمرکی تعرفو، بیمه، شخصی خدمتونه او نور ټکي ډیرروښانه او په اسنادوکي درج کوي، حال داچي دیوه هیواد دننه داقتصادي منطقوجوړول ددې ډول ادابو اواسنادولپاره اړتیانه لري. بلکې دملی اقتصاد دپرمختیا دملی تولید او ودې اودسیمي دخلکو دهوسایني لپاره کار کوی اودسیمه ییزه اقتصادی سرچینو دښه تخصیص اودخلکوهوساینه یي هدف وي.
داوسنیو نړیوالو واقعیتونو څخه ښکاري چي منطقوی اقتصادی مرستي اومنطقوی اقتصادی سازمانونه دپراختیاپه حال کي دی او ددغه ډول متقابلو، دوستانه او مساویانه اړیکو په رامنځته کیدوسره د سیمو اقتصادی وده پوره ښه شوی ده او ددوی واکونه او فعالیتونه ممکن تردې هم زیات اوپراخه شي.

**دمنطقوي اقتصاد دجوړیدو شالید**
منطقه یی اقصاد له هماغه پیل راهیسی د اقتصادي فعالیتونو فضایي ویشني سره کار درلود او له ډیره وخته د فضایی بُعد او اقتصادی فعالیت ارتباط تر څیرني لاندي نیسي. د اقتصاد تاریخ د هغو راز ــراز هڅو ښوونه کوي چي په ښکاره ډول سره د فضایي موضوع د په نښه کولو لپاره ترسره شویدي.لکه د مقایسوي ارزښت او د نړیوالي سوداګري په تیوریو کي .
علاوه پردې، د فضایي اقتصادي تحلیلونو سره یو شمیرمرسته کوونکي لاري چاري کیدلای شي چي داون تونن "Von thunen" ویبر "Weber"، پلاندر "Palunder"، هاټ لینګ "Hotelling"، پریډول "Predohl"، کریستالر "Chirstaller"، لوسچ "Losch" او نورو په کارونو کي وموندل شي. همدوی ددغی څانګي نامتو پوهان وو چي د منطقوی اقتصادی تاریخ جوړوی.مګر تر دویمي نړیوالي جګړي وړاندي منطقه یی اقتصاد دیو مستقل نظام په بڼه راڅرګند شوی نه واو نه هم دپنځوسمي لسیزي ترنیمایي پورې دجغرافیایي موقعیت په ستونزو پورې داړونده مفاهیمو دمطالعي لپاره دیو منل شوي تحلیلي چوکاټ په بڼه منځ ته راغلی و. د دوهمي نړیوالي جګړې دپای ته رسیدو له مهاله وروسته ،منطقه یی اقتصادRegional Economics" او وروسته ښاري اقتصاد" Urban Economicsدفضایي اقتصادي سیستمونو دجوړښت او تکامل په اړه دزیاتو معلوماتو دلاس ته راوړلو په برخه کي خورا دپام وړ پرمختګونه وکړل.له ډیرې مودې پخوا راهیسې هیوادونو دااړتیا احساس کړي وه چي دیوشمیر مشترکو وجوهاتو، کډواړتیاوو، دسرچینو سره شریک کولو اویوډبل له مساعدو امکاناتو په استفادې ځانونه اقتصادي ودې ته ورسوی او دلویو اوکوچنیو اقتصادي منطقوپه جوړولو دمنابعو دضایع کیدومخه ونیسی. دغي مفکورې دیوې جغرافیایی فضا درامنځته کولو اړتیا پیینه کړه. کیداي شي دغه فضا یواځی دوچي پرسروی ویا هم کیدای شي اوبه او سمندرونه هم پکي شامل شي. دولتونو ته داثابته شوه چي په یوه منطقه کي دسیاسی اونظامی همکاریو په پرتله اقتصادي همکاری ډیره آسانه اوګټوره ده. داقتصادي همکاري په فضا کي ګډیدل دومره پیچلی نه دي لکه له نورو هیوادونو سره چي په نظامي یاسیاسی فضا کي ګډیدل دومره پیچلی اوستونزمن دی. خو که دغه فضا دیوه هیواد دسیاسی قلمرو دننه وي نوبیا بیخی ستونزه نشته حال داچي دمنابعو،بشری ځواک او وسایلو څخه ښه کار اخیستل کیږي او د ترانسپورت لګښت ډیر کمیږي، نو ځکه هیوادونو دی ته ملا و تړله چي د خپلو قلمرونو دننه منطقوی اقتصاد په شان، په لویه کچه منطقوی اقتصاد جوړ کړی. دغه مفکوره د لومړي ځل لپاره له ۱۹۴۵ م. کال څخه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

وروسته عملي شوه. او اقتصاد پوهانو د اقتصادی فعالیتونو فضايي بُعد او د هغه په دننه کې اقتصادی فعالیت (Spatial Dispersion and Coherence of Economic Activities ) ته پاملرنه واړوله. او د فضايي بُعد مسّله يي د منطقوی اقتصاد په تیوري سره حل کړه. د همدې اړتیا له مخې د اقتصاد د منطقوی فعالیتونو د آسانه ترسره کولو لپاره د BENELUX اتحادیه جوړه شوه. وروسته د اروپايي مرستو سازمان Organization for European Cooperation په ۱۹۴۸ م. کال کی او بیا په ۱۹۵۲ د ډبرو د سکرو او پولادو د اقتصادی فعالیت سیمه یا European Cool and Steel Community جوړه شوه. وروسته په ۱۹۵۷ م. کال کې د شپږو هیوادونو په ګډون د اروپا اقتصادي ټولنه (European Economic Community) یا EECجوړه شوه. چې وروسته يي پوره پراختیا ومونده چي نن د اروپايي اتحاديي European Union په نوم فعاله ده. تر دغه منطقوی جوړښت لاندي د کرنی، کب نیولو او ترانسپورت د پالیسیو په هکله پریکړی کیږی او خپل اقتصادی فعالیتونه په همغږی سره تنظیموي. اوس منطقوی اقتصاد لاندنيو پوښتنو ته ځواب وايي:

- ولي وګړي په یوه سیمه کی تجمع کوی، ښارونه جوړوی او عرضه او تقاضا رامنځته کوی او تجارتي فعالیتونه دی ډول ځایو کې متمرکز کیږي؟
- ولی اقتصادی فعالیتونه په یوه ټاکلی ځای کې وی؟
- منطقوی تحلیل یعنی څه؟
- د اقتصاد منطقوی کول، دمناقلاتو په لګښت څه اغیزه کوی؟
- یوه انحصاری تصدی او په منطقه کې څو رقابت کوونکی تصدئ به دګټوله پلوه څه وضعیت ولری؟
- ولی باید تصدئ ټاکلو ځایونو کې ځای پر ځای شي او دي ته ورته پوښتنی.

اوسني وخت کي په حقیقت کې نړیوال نظام د نړئ د ګډو مسئلو لکه چاپیریال ساتنی، د بیوزلي له منځه وړل، مهاجرتونو، نړیوال امنیت او داسي نورو مسّلو په هکله د پریکړو واک لري او منطقوی جوړښتونه د سیمی په کچه په یوه ټاکلي فضايي بُعد کی د اقتصادي مسّلو په هکله د پریکړو واک لري.
د اقتصادي منطقو فعالیتونه او مناسبات ډیر پیچلی نه دی، خو د سیاسی سازمانونو مناسبات یو بل سره پیچلی دی. زیاتره وخت منطقوی اقتصادی جوړښتونه ، سیاسی مناطق او د هغو ممکنه مرکزونه او د رهبری مقر په لاندی ډول ترسترګو کیږی:
۱-جدول: سیمی او پیشنهاد شوی مقر(مرکزونه)

| د سیمی نوم | وړاندیز شوی مقر |
|---|---|
| شمالي امریکا (د نفتا منطقه) | کاناډا یا د امریکی متحده ایالات |
| مرکزی امریکا (د کارائیب منطقه) | نیکا، اګرا یا کیوبا |
| جنوبي امریکا | بولویا، کولمبیا یا ارجنتاین |
| ختیځه آسیا (د وچي او سمندر په ګډون) | جنوبی کوریا |
| دآسیا جنوب(سارک) | بنګله دیش یا سریلانکا |
| د آسیا جنوب لویدیځ (د ECO حوزه او خلیج) | ایران |
| د آرام سمندر ټاپوګان او آسیايي اوقیانوس | اندونیزیا |
| د افریقا جنوب ختیځ | کینیا یا موزمبیق |
| د افریقا لویدیځ | کامرون یا ګابون |
| عربی منطقه | مصر یا سودان |
| اروپا | سویس |
| روسیه او د اسلاو منطقه | اوکراین یا سپینه روسیه |
| جنوب ختیځ | مالیزیا |

نور بیا

سیمه ییز اقتصاد، اړتیا او له دې پلوه په سیمه کې د افغانستان دریځ، لمړی برخه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ